# ۱۰۰ حدیثونه

## صحیح او گلچین حدیثونه

د اسلام د پیغمبر ﷺ ویناووی چی ستاسی دنیوی او اخروی ژوند روښانه او خوندور کووی.

## او د سحر اذکار

جمع او ترتیب: أبوشاکر مسلم

ژباړه : مُحَمَّد موحد

بسم الله الرحمن الرحیم

د دی کتاب چاپ او نشر د هرمسلمان لپاره آزاده ده

## حديث(۱):

رسول الله ﷺ فرمايلي: «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ». [متفق عليه]
ژباړه : دعملو قبليدل د نيت سره تعلق لري.

## حديث(۲):

رسول الله ﷺ فرمايلي: «لم تظهر الفاحشة في قوم قط حتى يعلنوا بها ، إلا فشا فيهم الطاعون ، والأوجاع التي لم تكن مضت في أسلافهم الذين مضوا» [رواه ابن ماجه ، وحسنه الألباني].
ژباړه : په يو قوم كې به فحاشت نه خپريږي مگر كه خپور شو ، الله تعالى به هغوى د خپل رحمت څخه لرې كړي ، په هغوى كې به طاعون او داسې مرضونه چې په پخوانيو كې يې نه وي تير شوي نازل كړي .

## حديث(۳):

رسول الله ﷺ فرمايلي: « يكون في أمتي قذف ومسخ وخسف « ، قيل يا رسول الله: ومتى ذلك ؟ قال»: إذا ظهرت المعازف وكثرت القيان وشربت الخمور»[ رواه الترمذي في الجامع و ابن ابى الدنيا في ذم الملاهي وفى المشكاة ] .
ژباړه: زما په امت كې به د ډبرو ويشونكى عذاب ، مسخ (شكل بدلېدل) ، خسف (په ځمكې كې غرقېدل ) را مينځته شي . چا پوښتنه وكړه يا رسول الله صلى الله عليه وسلم كله به دا را مينځته كيږي ؟ ويې فرمايل : كله چې ساز سرود او موسيقي ظاهره او ښكاره شي ، سينگار ډير شي او شراب څښل كيږي .

## حديث(۴):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«اَلدِّيْنُ اَلنَّصِيْحَةُ». [مسلم]
ژباړه : دين د خير غوښتني نوم دى.

## حديث(۵):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«اَمْلِکْ لِسَانَکَ». [ترمذى].

ژباړه : خپله ژبه وساته.

## حديث(۶):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«مَنْ صَمَتَ نَجَا». (ترمذی)

ژباړه : څوک چې چپه خوله شو ، هغه نجات پيدا کړ.

## حديث(۷):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«اِذَا غَضِبَ اَحَدُكُمْ فَلْيَسْكُتْ». [طبرانی]

ژباړه : له تاسې څخه چې هر څوک په غوسه شو ، بايد چې چپه خوله سي.

## حديث(۸):

«عَنْ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ أَنَّ رَجُلًا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اسْمُهُ عَبْدَ اللَّهِ ، وَكَانَ يُلَقَّبُ حِمَارًا ، وَكَانَ يُضْحِكُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ ، وَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ قَدْ جَلَدَهُ فِي الشَّرَابِ ، فَأُتِيَ بِهِ يَوْمًا فَأَمَرَ بِهِ فَجُلِدَ ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ القَوْمِ : اللَّهُمَّ العَنْهُ ، مَا أَكْثَرَ مَا يُؤْتَى بِهِ ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : لاَ تَلْعَنُوهُ ، فَوَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ إِنَّهُ يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ». [رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ].

ژباړه : عمر بن الخطاب رضي الله عنه وايي: د رسول الله ﷺ زمانه کې يو سړی و ، عبد الله نوميدی ، خلکو د "حمار" لقب ورکړی و ، ده به رسول الله ﷺ ته ټوکې کولې او هغه به يې خندوه. دې سړي يو وخت شراب څښلي و ، نو رسول الله ﷺ حد پرې جاري کړی و ، يوه ورځ يې بيا راوست او د شرابو حد يې پرې جاري کړ. هلته له خلکو نه يوه سړی وويل: پر ده دې د الله لعنت وي ، دی څومره ډېر شراب څښي. په دې سره رسول الله ﷺ وفرمايل: په ده لعنتونه مه وايئ ، په الله قسم کوم ، زه چې څومره پوهيږم هغه له الله او رسول سره مينه لري.

- د دې صحابي له ټوکو يوه دا چې يو وخت يې له يوه سوداګر نه په پور څه غوړي او شات واخيستل او هغه يې رسول الله ﷺ ته تحفه کې ورکړل ، څه وخت وروسته هغه سړی راغی او خپلې پيسې يې غوښتلې ، ده رسول الله

ﷺ ته وروست ، ول له ده نه مې ستا لپاره غوړي او شات اخیستي و ، پیسي يې پاتي دي ، هغه ورکړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ته يې ولې نه ورکوې ؟! هغه وويل: زه يې نه لرم... رسول الله ﷺ ورته وخندل او سړي ته يې پيسې ورکړې.[ مسند أبي يعلي والحلية ].

## حديث(۹):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا» [مسلم].

ژباړه : هر چا چې فريب وکړ ، هغه له مونږ څخه نه دی.

## حديث(۱۰):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« اَلْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الأيْمَانِ» [متفق عليه]

ژباړه : حيا د ايمان يوه شعبه ده.

## حديث(۱۱):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«زِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ» [مشكاة].

ژباړه : د سترګو زنا ناروا کتل دي.

## حديث(۱۲):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةُ مَنْ لاَّيَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ» [مسلم].

ژباړه : هغه سړی به جنت ته داخل نشي چې ، ګاونډي يې له ضرر څخه محفوظ نه وي.

## حديث(۱۳):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ »[بخارى].

ژباړه : د قبر عذاب حق دی.

## حديث(۱۴):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ »[ابوداود]

ژباړه : هر څه چې نشه راولي ، حرام دي.

## حدیث(۱۵):

رسول الله ﷺ فرمایلي:« مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ اَلصَّلاَةِ وَ مِفْتَاحُ الصَّلاَةِ اَلْوُضُوْءُ» [ترمذی].
ژباړه : د جنت کیلي لمونځ دی او د لمانځه کیلي اودس دی.

## حدیث(۱۶):

رسول الله ﷺ فرمایلي:« اَلسِّوَاكُ مُطَهِّرَةٌ لِلْفَمِّ وَ مَرْضَاةٌ لِّلرَّبِّ» [نسائي].
ژباړه : مسواک وهل د خولې د پاکۍ سبب دی او د الله ﷻ د رضاء سبب ګرځي.

## حدیث(۱۷):

رسول الله ﷺ فرمایلي:«أَفْضَلُ الأَعْمَالِ الْحُبُّ فِي اللَّهِ وَالْبُغْضُ فِي اللَّه» [ابوداود].
ژباړه : ښه د عملو څخه دا دی چې ، دوستي هم د الله تعالی لپاره وي او دښمني هم د الله تعالی لپاره وي.

## حدیث(۱۸):

رسول الله ﷺ فرمایلي:« أَحَبُّ الْبِلاَدِ إِلَى اللَّهِ مَسَاجِدُهَا وَأَبْغَضُ الْبِلاَدِ إِلَى اللَّهِ أَسْوَاقُهَا» [مسلم].
ژباړه : ډیر خوښ د ښارو څخه د الله ﷻ په نزد مسجدونه دي او ناخوښه د ښارو څخه د الله ﷻ په نزد بازارونه دي.

## حدیث(۱۹):

رسول الله ﷺ فرمایلي:« مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلَّهِ تَعَالَى بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ»[متفق علیه].
ژباړه : هر چا چې د الله ﷻ د رضاء لپاره مسجد جوړ کړ ، الله ﷻ به دده لپاره په جنت کې ځای جوړ کړي.

## حديث(۲۰):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْجُمُعَةِ فَلْيَغْتَسِلْ» [متفق عليه].
ژباړه : څه وخت چې يو ستاسې څخه جمعه پيدا کړي ، بايد غسل وکړي (يعني د جمعې په ورځ غسل وکړي).

## حديث(۲۱):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وعَلَّمَه»[ صحيح البخاري ].
ژباړه : په تاسو کې ترټولو ښه خلک هغه دي چې قران کريم زده کړي او نورو ته يې ور وښيي

## حديث(۲۲):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«خِيَارُكُمْ أُحَاسِنُكُمْ أَخْلَاقًا»[صحيح البخارى].
ژباړه : ترټو ښه سړى هغه دى چې ښه اخلاق ولري

## حديث(۲۳):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«خَيْرُكُمْ أَحْسَنُكُمْ قَضَاءً»[صحيح البخارى].
ژباړه : په تاسو کې ښه سړى هغه دى چې قرض پور خپل پر وخت ورکړي

## حديث(۲۴):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«خَيْرُكُمْ مَنْ يُرْجَىٰ خَيْرُه ويُؤَمَنُ شَرُّه».[الترمذى].
ژباړه : تر ټولو ښه سړى هغه دى چې دده څخه دخير اميد وکړاى سي او همدارنګه دده دشر څخه دنجات اميد وکړاى سي

## حديث(۲۵):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِه»[صحيح ابن حبان].
ژباړه : په تاسو کې( ښه سړى ښه سړى بهتره سړى ) هغه دى چې دخپل کورنۍ دخلکو سره ښه چلند کوي

## حديث(۲۶):

رسول الله ﷺ فرمایلي:«خَیْرُکُمْ مَنْ أَطْعَمَ الطَعَامَ و رَدَّ السَلَامَ».[صحیح الجامع].
ژباړه: په تاسو کي ښه سړی هغه څوک دی چي یو چاته ډوډۍ ورکړي او دیو چاسلام ته ځواب ورکړي

## حديث(۲۷):

رسول الله ﷺ فرمایلي:«خَیْرُ الناسِ مَنْ طَالَ عُمْرُه وحَسُنَ عَمَلُه»[صحیح الجامع].
ژباړه: ښه سړی هغه دی چي په عمر کي زیاتوالی برکت راسي او نیک کارونه تر سره کړي

## حديث(۲۸):

رسول الله ﷺ فرمایلي:«خَیْرُ النَاسِ أَنْفَعُهُمْ لِلنَاسِ»[صحیح الجامع].
ژباړه: بهترینه خلک هغه دي چي خلکو ته ګټه ورسوي.

## حديث(۲۸):

رسول الله ﷺ فرمایلي:«خَیْرُ الأَصْحَابِ عِنْدَ اللهِ خَیْرُکُمْ لِصَاحِبِهِ ، وخَیْرُ الجِیْرَانِ عِنْدَ اللهِ خَیْرُکُمْ لِجَارِه»[صحیح أدب المفرد].
ژباړه: د الله تعالي په نیز ښه خلک هغه دي چي دخپل ملګري سره ښه وي او دالله تعالی په نیز ښه ګاونډی هغه دی چي دخپل ګاونډیانو سره ښه وي

## حديث(۳۰):

رسول الله ﷺ فرمایلي:«خَیْرُ النَّاسِ ذُوْ الْقَلْبِ المَخْمُومِ وَاللِّسَانِ الصَّادِقِ».[صحیح الجامع].
ژباړه: ښه دخلکو څخه هغه انسان دی چي پاک زړه ولري او تل رینښتیا وایي

## حديث(۳۱):

رسول الله ﷺ فرمایلي:«اَلصَّلَوَاتُ الْخَمْسِ یَمْحُو اللَّهُ بِهِنَّ الْخَطَایَا»[مسلم].

ژباړه : د پنځو لمونځونو په کولو سره الله ﷻ ګناهونه بخښي.

## حديث(۳۲):

رسول الله ﷺ فرمايلي:«صَلُّوْا الصَّلاَةَ لِوَقْتِهَا» [مسلم].

ژباړه : لمونځ پر خپل ټاکلي وخت باندې آدا کړئ.

## حديث(۳۳):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« إِذَا سَجَدْتَّ فَضَعْ كَفَّيْكَ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ» [مسلم].

ژباړه : څه وخت چې تاسې سجده کوئ ، خپل ورغوی (لاسونه) پر ځمکه کښيږدئ او خپل بازوګان له ځمکې څخه پورته کړئ.

## حديث(۳۴):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« الَّذِى تَفُوتُهُ صَلاَةُ الْعَصْرِ كَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ »[متفق عليه].

ژباړه : له هر چا څخه چې د مازيګر لمونځ قضا شو ؛ نو لکه مال او اولاد چې يې برباد شو.

## حديث(۳۵):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الإِزَارِ فَفِي النَّارِ »[متفق عليه].

ژباړه : هر چا لنګ يا پايڅې چې تر ښنګرو ښکته وي ، هغه حصه د بدن به يې دوزخ ته ولاړه شي.

## حديث(۳۶):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« لاَ تَدْخُلُ الْمَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلاَ صُورَةٌ »[متفق عليه].

ژباړه : ملائکې هغه کور او خونې ته نه داخليږي چې ، په هغه کې سپی يا عکسونه وي.

## حديث(۳۷):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ» [ابوداود].

ژباړه : د حسد او بغض څخه تيښته وکړئ ځکه چې ، حسد او بغض نيکي داسې خوري لکه اور چې بوټي خوري.

## حديث(۳۸):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« لاَ يَدْخُلُ الْجَنّةَ خِبٌ وَلاَ بَخِيْلٌ وَلاَ مَنَّانٌ »[ترمذى].

ژباړه : فريب كاره ، بخيل ، او هغه څوک چې د خپل احسان پر بل چا اچوي ، جنت ته به داخل نه شي.

## حديث(۳۹):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوْقٌ وَقِتَالُهُ كُفْر»[متفق عليه].

ژباړه : مسلمان لره نالائقه وينا لويه ګناه او په ناحقه وژل د کفر سره برابر ده.

## حديث(۴۰):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ» [صحيح البخارى].

ژباړه : کامل مسلمان هغه څوک دى چې ، هغه له ژبې او لاس څخه مسلمانان په امن کې وي.

## حديث(۴۱):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« لاَ إِيْمَانَ لِمَنْ لاَ أَمَانَةَ لَهُ وَلاَ دِيْنَ لِمَنْ لاَ عَهْدَ لَهُ »[بيهقى].

ژباړه : ايمان نشته هغه چا لره چې ، امانتداره نه وي او کامل ديندراه نه وي ،هغه څوک چې پر خپله وعده وفا نه کوي. (له ايمان څخه مراد کامل ايمان دى).

## حديث(۴۲):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلاَثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ»[متفق عليه].

ژباړه : د منافق درې علامې دي: څه وخت چې خبرې کوي درواغ وايي او څه وخت چې وعده وکړي ، وفا پرې نه کوي (وعده خلافي کوي) او په امانت کې خيانت کوي.

## حديث(۴۳):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« ارْحَمُوا أَهْلَ الأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ» [الترمذى].

ژباړه : تاسې رحم کوئ پر هغه چا چې په ځمکه کې دى ، پر تاسې به رحم وکړي هغه (الله ﷻ) چې ، په اسمان کې دى.

## حديث(۴۴):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ »[مسلم].

ژباړه : خپلو مړو لره (هغه کسانو ته چې د ځنکدن شيبې يې وي) تلقين وركوئ په كلمه سره د لااله الا الله مُحَمَّد رسول الله.

## حديث(۴۵):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« لاَ تَسُبُّوا الأَمْوَاتَ فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا »[صحيح البخارى].

ژباړه : خپلو مړو ته ښکنځل بد ويل مه کوئ ځکه چې ، دوى رسيدلي دي هغه ته چې مخکې يې استولي وه (د خپل عمل جزا ته رسيدلي دي).

## حديث(۴۶):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهِ وَوَالِدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ»[متفق عليه].

ژباړه : تاسي څخه هيڅ سړی کامل مؤمن نشي کيدای ، تر څو چې ده لره زما محبت تر خپل مور ، پلار ، اولاد او تر ټولو خلکو ډير نشي.

## حديث(۴۷):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ » [صحيح البخارى].
ژباړه : انسان به د قيامت په ورځ د هغه چا سره ملګری وي چې ، په دنيا کې يې د هغه سره محبت درلود.

## حديث(۴۸):

عنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ الله عَنهُ ، قَالَ: قَالَ ﷺ : وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ لَمْ تُذْنِبُوا لَذَهَبَ اللّهُ بِكُمْ ، وَلَجَاءَ بِقَوْمٍ يُذْنِبُونَ ، فَيَسْتَغْفِرُونَ اللّهَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ »[مسلم]
ژباړه : د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت ده چې پيامبر ﷺ و فرمايل : قسم په هغه ذات چې زما ژوند د هغه په لاس کښې دی ،که تاسو ګناهونه نکول يقينا الله به تاسی له منځه وړی وای او ستاسو پر ځای به يی بل قوم راووست چې ګناه به يی کوله او د الله نه به يی بخښنه غوښتله او هغه وخت به الله هغوی بخشلی وای.

## حديث(۴۹):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ »[صحيح البخارى].
ژباړه : سلام دې وايي کشر مشر ته او تلونکی (روان) ناست ته او لږ کسان و ډيرو ته.

## حديث(۵۰):

رسول الله ﷺ فرمايلي:« إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى أَجْسَادِكُمْ وَلاَ إِلَى صُوَرِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ » [مسلم].

ژباړه : الله تبارک و تعالی ستاسې صورتونو او مالونو ته نه ګوري بلکي ، الله تعالی ستاسې زړونو او عملونو ته ګوري.

## حديث(۵۱):

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ ، فَيَقُولُ: مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ وَمَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ وَمَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ».[مسلم].

ژباړه : زموږ رب د شپې په آخري دریمه برخه کې لاندې او نژدې اسمان ته (بلا کیفه) را کښته کېږي ، او وايي: یو څوک دعاء کونکی سته ، چې دعاء یې قبوله کړم ؟ یو څوک غوښتونکی سته ، چې ور یې کړم ؟ یو څوک بخښنه غوښتونکی سته ، چې بخښنه ورته وکړم ؟)

## حديث(۵۲):

وعن أبی ذر قال: قال النبی ﷺ :ثَلاَثَةٌ لاَ يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، وَلاَ يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ ، وَلاَ يُزَكِّيهِمْ ، وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ» قَالَ فَقَرَأَهَا رَسُولُ اللَّهِ ص ثَلاَثَ مِرَارٍ ، قَالَ أَبُو ذَرٍّ: خَابُوا وَخَسِرُوا ، مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ ؟ قَالَ: «الْمُسْبِلُ اِزَارَهُ وَالْمَنَّانُ ، وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ.[صحيح مسلم].

ژباړه : ابوذر رضی الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وويل: له دريو کسانو سره به الله د قيامت په ورځ خبرې نه کوي ، نه به ورته ګوري او نه به يې تزکيه کوي ، او د دوی له پاره به دردناکه عذاب وي ، ابوذر وايي: داخبره رسول الله صلی الله عليه وسلم درې ځله وکړه ، ابوذر ورته وويل: دا خلک څوک دي يارسول الله دوی خو ناکام او تاواني شول ؟ هغه وويل: يو هغه چې له کبره يې خپله جامه لاندې ځړولې وي ، او دويم هغه چې له چا سره ښېګڼه وکړي او بيا يې ورياد وي او دريم هغه چې خپل سامان د دروغو په قسم سره خرڅوي.(رواه مسلم).

## حدیث(۵۳):

رسول الله ﷺ فرمايي: لَزَوَالُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ عِنْدَ اللهِ مِنْ قَتْلِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ.[مشكاة].
ژباړه : د الله تعالی په نزد د ټولې دنيا ختمېدل د يوه مسلمان كس تر قتل بهتر دي.

## حدیث(۵۴):

رسول الله ﷺ وايي: مثل المؤمنين في توادهم وتراحمهم وتعاطفهم مثل الجسد إذا اشتكى منه عضو تداعى له سائر الجسد بالسهر والحمى[صحيح مسلم].
ژباړه : په خپل منځي مينه ، په يوه بل رحم كولو او له يوه بل سره په نرمي كې مومنان د يوه بدن په څير دي ، كه د بدن يو غړى كومه ناروغي ولري ، ټول بدن ور سره ناروغه او شپه يې وېښه وي.

## حدیث(۵۵):

عَنْ رَبِيعَهْ بنِ شَيْبَان قَالَ: «قُلْتُ لِلْحَسَن بنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا مَا حَفَظْتَ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ ؟ قَالَ حَفَظْتُ مِنْهُ: دَعْ مَا يُرِيبُكَ إِلَي مَا لَايُرِيْبُكَ فَإِنَّ الصِّدْقَ طَمَأنِينَةٌ وَالْكَذِبَ رَيْبَةٌ ».[الترمذى].
ژباړه : ربيعه بن شيبان وايي ، ما حسن بن على رضى الله عنهما ته وويل :
تا له رسول الله ﷺ نه څه ياد كړي دي ؟
ده راته وويل: ما له هغه دا خبره ياد كړې ، چې ويل يې:
- په كوم كار كې چې دوه زړى او شكمن يې هغه پرېږده او هغه كار وكړه ، چې په هغه كې شک نه وي ؛ ځكه په رښتيا كې داډ او اطمنان پروت دى او په دروغو كې شک او شبه وي.

## حدیث(۵۶):

«وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : من صلى علي واحدة صلى الله عليه عشرا » .[ رواه مسلم ].

ژباړه : كوم چا چې پر ما باندي يو ځل درود ووايه ، الله ﷻ به پر هغه باندي لس رحمته نازل كړي.

## حديث(۵۷):

په مشكاة كه رازى:«فقلنا يا رسول الله كيف الصلاة عليكم أهل البيت فإن الله قد علمنا كيف نسلم عليكم قال : " قولوا اللهم صل على مُحَّد وعلى آل مُحَّد كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم إنك حميد مجيد اللهم بارك على مُحَّد وعلى آل مُحَّد كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم إنك حميد مجيد ».

ژباړه : يا رسول الله ﷺ! موږ څه ډول پر تا درود شريف ووايو ؟

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:- داسي درود واياست:

« اللهم صلى على مُحَّد وأزواجه وذريته كما صليت على آل إبراهيم وبارك على مُحَّد وأزواجه وذريته كما باركت على آل إبراهيم إنك حميد مجيد ».

## حديث(۵۸):

عَـنْ عَائِشَـةَ رَضِـيَ اللهُ عَنْهَـا:« أَنَّ النَّبِـيِّ ﷺ كَـانَ يَقُـولُ لِلمَـرِيضِ:«بِسْـمِ اللهِ تربَـةُ أَرْضِنَا ، بِرِيقةِ بَعْضِنَا ، يُشْفَى سَقِيمُنَا ، بِإِذْنِ رَبِّنَا ».

ژباړه : عائشه رضي الله عنها فرمايي: رسول الله ﷺ به د دم پر وخت دا دعا ويله:( بِسْمِ اللهِ تربَةُ أَرْضِنَا ، بِرِيقةِ بَعْضِنَا ، يُشْفَى سَقِيمُنَا ، بِإِذْنِ رَبِّنَا ).

## حديث(۵۹):

رسول الله ﷺ فرمايلي دى:«لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ، لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ مُنْذُ الْيَوْمِ لَوَزَنَتْهُنَّ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ ، عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ».

ژباړه: يقينا ما له تا وروسته څلور كلمات درى ځله وويل ، كچيرى ستا د ټولي ورځي له ذكر سره وتلل شي ، نو له هغي به درانده وى:«سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ ، عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِه»

پاکي ده الله ﷻ لره او غوره ستاينه ده هغه لره ، په اندازه د مخلوقاتو د هغه ، د نفس د رضا د هغه ، په وزن د عرش د هغه او په رنګ د کلماتو د هغه .

## حديث(۶۰):

«أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ ﷺ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَا مِنْ مُصِيبَةٍ تُصِيبُ الْمُسْلِمَ إِلَّا كَفَّرَ اللهُ بِهَا عَنْهُ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا»[صحيح البخارى].

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي : چه مؤمن سړی ته چې هر څه تکليف رسيږي نو الله سبحانه وتعالی ددې په وسيله د هغه ګناهونه داسې رژوي لکه خزان وهلې ونه چه خپلې پاڼې رژوی.

## حديث(۶۱):

امام بخاري رحمة الله عليه له عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت را نقل کړی ، هغه فرمايي: چې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: په داسې حال کې چې زه بيده وم خوب مې وليد چې له کعبې څخه طواف کوم ، ناڅاپه مې يو سور غنم سړی په نظر راغی ګوڼګوټي وېښتان يې وو ،ښی سترګه يې ړنده وه ،سترګه يې د راپورته شوي انګور په څېر وه ،ماپوښتنه وکړه چې دغه څوک دی ؟

هغو ځواب کوونکو وويل چې دغه دجال دی ،هغه ته ډېر ورته په خلګو کې دقطن زوی دی.

## حديث(۶۲):

انس رضی الله عنه وايی چې ماته پيغمبر ﷺ پنځه نصيحتونه کړي دي او هغه دادي:

۱- اې انسه ! پوره اودس کوه ، عمر به دي زيات سي.

۲- زما پر هر امتي سلام کوه ، نيکی به دي زياتي سي

۳- په ميرمن سلام اچوه ، کور کې به دي خير زيات سي

۴- د څاښت لمونځ کوه ، ترتاچي مخکي کوم نېکان وو هغو نه پرېښودل.

۵- ای انسه! پر کوچنيانو رحم کوه ، د مشرانو درناوی کوه ، نو د قيامت په ورځ به زما ملګری سي.[تفسير ابن کثير ۳ ټوک ۵۲۸ مخ].

## حديث(۶۳):

د عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې اودس وکړي ، فرض او سنت يې په پام کې ونيسي ، نو د بدن څخه يې ګناهونه وځي ، آن تر دې چې د نوکانو له بيخونو څخه يې هم ګناهونه ووځي[مشکاة].

## حديث(۶۴):

سهل بن سعد رضی الله عنه روايت کوي ، چې پيغمبر ﷺ علي رضی الله عنه ته وفرمايل: «فوالله لأن يهدي الله بك رجلا واحدا خير لك من أن يكون لك حمر النعم ».[مشکاة].

ژباړه : زما دې پر الله تعالی قسم وي ، که ستا په ذريعه يوه کس ته هدايت وشي ؛ نو دا ستا لپاره تر سرو اوښانو هم غوره ده.

## حديث(۶۵):

عَن عائشة رضی الله عنها قالت: «أَنَّ النبيَّ ﷺ قَالَ: «إِنَّ الرِّفقَ لا يَكُونُ في شيءٍ إِلَّا زَانَهُ ، وَلا يُنْزَعُ مِنْ شَيءٍ إِلَّا شَانَهُ» [رواه مسلم].

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي: نرمي چې په کوم شي کې پيدا شي ، هغه ښايسته کوي ، او نرمي چې له کوم شي څخه لېرې شي ، په هغه شي کې عيب پيدا کوي (بد نما ښکاري).

## حديث(۶۶):

وعن عبد الله بن مسعود قال : سألت النبي ﷺ أي الأعمال أحب إلى الله قال : " الصلاة لوقتها " قلت ثم أي قال : " بر الوالدين " قلت ثم أي قال : " الجهاد في سبيل الله [مشکاة].

ژباړه :عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه فرمايئ ما د نبی کريم ﷺ نه پوختنه وکړه الله سبحانه وتعالی ته کوم اعمال ډير خوښ او محبوب دی ؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

- مونز په خپل وخت اداء کول
- او د مور او پلار سره نيکی کول
- او جهاد فی سبيل الله.

## حديث(۶۷):

قَالَ رسول الله ﷺ :« اقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِى يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لِأَصْحَابه».[صحيح مسلم].

ژباړه : نبی عليه السلام فرمايئ : د قران کريم تلاوت وکړئ دا به قيامت په ورځ سفارش کونکی راځی د تلاوت کونکو لپاره

## حديث(۶۸):

قال رسول الله ﷺ :«أول ما يحاسب به العبد يوم القيامة يحاسب بصلاته فإن صلحت فقد أفلح وأنجح وإن فسدت فقد خاب وخسر» [جامع الاحاديث].

ژباړه : نبی عليه السلام فرمايلی دی اول حساب کتاب به د قيامت په ورځ د لمانځه کيږی چه دی کی دی کامياب شی او لمانځه دی صحيح شی نو ټول اعمال به دی صحيح شی او که لمانځه دی فاسد شو ټول اعمال به دی فاسد شی

## حديث(۶۹):

وعن أبن عمر قال : قال رسول الله ﷺ : « لا يأكلن أحدكم بشماله ولا يشربن بها فإن الشيطان يأكل بشماله ويشرب بها » .[رواه مسلم]

ژباړه : نبی عليه السلام فرمايی تاسی نه دی خو په چپ ( ګس لاس ) خوراک اودځکل نه کوی شيطان په چپ ( ګس لاس ) خوراک او څکاک کوی.

## حديث(۷۰):

عن حذيفة بن اليمان - رضي الله عنه - قال :« كان النبيُ ﷺ ، إذا قام من الليل ، يَشُوصُ فاه بالسواكِ »[صحيح البخارى].

ژباړه : حذيفه بن اليمان رضى الله عنه نه روايت دى كله به چه نبى عليه السلام شپې د خوب نه پاځيدلو نو مسواک به يې کولو .

## حديث(۷۱):

عن عمرو بن عبسة قال : «أتيت رسول الله ﷺ فقلت يا رسول الله من تبعك على هذا الأمر قال حر وعبد قلت ما الإسلام قال طيب الكلام وإطعام الطعام قلت ما الإيمان قال الصبر والسماحة قال قلت أي الإسلام أفضل قال من سلم المسلمون من لسانه ويده قال قلت أي الإيمان أفضل قال خلق حسن قال قلت أي الصلاة أفضل قال طول القنوت قال قلت أي الهجرة أفضل قال أن تهجر ما كره ربك عز وجل قال قلت فأي الجهاد أفضل قال من عقر جواده وأهريق دمه قال قلت أي الساعات أفضل قال جوف الليل الآخر »[رواه أحمد]

ژباړه : عمروبن عبسه رضى الله عنه وايې زه رسول لله ﷺ ته راغلم او عرض مى وکړو

اى دالله رسوله !

پدى اسلام باندى تاسره څوک ملګرى دى ؟

ويې فرمائل آزاد او مرئى

ما عرض وکړو اسلام څه ته وايې ؟

ويې فرمائل خوږى خبرى کول او په خلکو باندى خوراک خوړل

ما وويل ايمان څه ته وايې ؟

ويې فرمائل صبر او سخا

ما وويل کوم يو اسلام ډير غوره دى ؟

د هغه چا اسلام چه دهغى د ژبى او لاس ضرر نه نور مسلمانان په امن وى

ما وویل کوم یو ایمان ډیر غوره دی ؟

ویی فرمائل خائسته اخلاق

ما وویل کوم لمونځ ډیر افضل دی ؟

ویی فرمائل اوږد قیام والا

ما وویل کوم یو هجرت ډیر غوره دی ؟

دا چه ته هغه شی پریږدی کوم چه ستارب بد ګنړی

ما وویل کوم یو جهاد ډیر افضل دی ؟

د هغه چا جهاد چه آس یئ زخمی شی او دهغه وینه توئ شی

ما وویل کوم وختونه ډیر غوره دی ؟

ویئ فرمائل دشپی آخره حصه[احمد ٥/٣١٩ ٤/٢٨٥ مشكاة ١/١٦].

## حديث(۷۲):

رسول الله ﷺ فرمايلي دی:«لا تقتل نفس ظلما إلا كان علي ابن آدم الأول كفل من دمها ، لأنه أول من سن القتل »[أخرجه البخاري: (١١/ ٤٩٣) رقم ٣٣٣٥]

ژباړه : نبی علیه السلام فرمائیلی دی کله چه هم دنیا کی ناحق قتل کیږی نو ددی د ګناه یوه حصه د ادم علیه السلام ځوئ قابیل ته ضرور کیږی ولی چه هغی د قتل طریقه ایجاد کړی وه.

## حديث(۷۳):

رسول الله ﷺ فرمايلي دی:« من سن في الإسلام سنة حسنة فله أجرها وأجر من عمل بها بعده من غير أن ينقص من أجورهم شيء ومن سن في الإسلام سنة سيئة كان عليه وزرها ووزر من عمل بها من بعده من غير أن ينقص من أوزارهم شيء»[أخرجه مسلم (٢/ ٧٠٤) رقم ١٠١٧]

ژباړه : نبی علیه السلام فرمائیلی دی چاچه اسلام کی د نبی علیه السلام سنت او طریقه راژوندی کړه او بیا د هغی نه پس په هغی عمل وکړی شو ددی انسان لپاره

د هغی عمل کوونکی برابر ثواب لیکل کیږی او ددی ثواب کی به هیخ کمی نه کیږی
او کوم انسان چه په اسلام کی غلط طریقه رواج کړه او بیا په هغی عمل وکړی شو نو ددی عمل کونکی برابر گناه به دی ته لیکل کیږی چه هیخ کمی به پکی نه کیږی.

## حدیث(۷۴):

رسول الله ﷺ فرمایلي دی:«مَنْ قرأَ آيةَ الكُرسِيِّ دُبُرَ كلِّ صلاةٍ مكتوبةٍ ، لمْ يمنعْهُ من دُخُولِ الجنةَ إلَّا أنْ يمُوتَ».[صحيح الجامع ]
ژباړه : هر څوک چي د هر لمانځه وروسته آية الكرسي ووایي نو د هغې او جنت تر منځ هیڅ فاصله نشته مګر مرګ.

## حدیث(۷۵):

رسول الله ﷺ فرمایلي دی:«ما انزال الله داء الا انزل له شفاء»[صحیح البخاری].
ژباړه : الله تعالي هیڅ داسي مرض نه دی رالیږلي چي د هغي دوا ي نه وي رالیږلي .

## حدیث(۷۶):

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« اجْتَنِبُو السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ قِيلَ يَا رَسُول اللَّهِ وَمَا هُنَّ قَالَ الشِّرْکُ بِاللَّهِ وَالسِّحْرُ وَ قَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ اِءلَّا بِالْحَقِّ وَ أَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ وأَكْلُ الرِّبَا و التَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ وَ قَذْفُ الْمُحْصِنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُومِنَاتِ.» ]رواه البخاری[
ژباړه :له ابو هريرة څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ و فرمایل : له اوو هلاکونکو څخه ځانونه وژغورئ !پوښتنه وشوه ، هغه څه شی دي هغه ﷺ و فرمایل:الله پاک سره شریک نیول ،کودې کول ،په ناحقه سره انسان وژل ،د یتیم مال خوړل ، سود او ربا خوړل ،د غزا او جګړې له ډګر څخه تیښته او فرار او په مؤمنو او پاک لمنو نا خبرو ښځو پورې د زنا او بی حیایۍ تور تړل.

## حديث(۷۷):

عن معاذ بن جبل قال : قال رسول الله ﷺ :« من كان آخر كلامه لا إله إلا الله دخل الجنة »[ رواه أبو داود]

ژباړه : د هر چا آخرى خبره چي كلمه (لا اله الا الله ) وي جنت ته داخليږي.

## حديث(۷۸):

عن أبي هريرة قال : قال رسول الله ﷺ : " إن الله لا ينظر إلى صوركم ولا أموالكم ولكن ينظر إلى قلوبكم وأعمالكم »[ رواه مسلم].

ژباړه : الله ﷻ ستاسې مخ او جسم( ظاهر) ته نه ګوری مګر ستاسي زړه او اعمالو ته نظر کوی.

## حديث(۷۹):

وعن أبى بكرة قال: قال رسول الله ﷺ :«الْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ هَذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ قَالَ إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ»[صحيح البخارى].

ژباړه : هر كله چي دوه مسلمانان شمشيرپه تورى سره يو بل په مقابل كي وجنګيږي قاتل او مقتول دواړه به دوزخ ته ولاړ شي.

پوښتنه مي وکړه يا رسول الله د قاتل دوزخي كيدل خو معلوم دى خو مقتول ولى دوزخ ته ځي رسول الله صلى الله وفرمايل په دي دليل چي نوموړي هم د خپل مسلمان ورور د وژلو اراده لرله.

## حديث(۸۰):

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : " الصلوات الخمس والجمعة إلى الجمعة ورمضان إلى رمضان مكفرات لما بينهن إذا اجتنبت الكبائر ".[ رواه مسلم]

ژباړه : ابوهريره رضی الله عنه وايي چې نبي اکرم ﷺ وفرمايل: پنځه لمونځونه او دجمعې لمونځ او د رمضان په مياشت کې روژه نيول هغه ګناه وې له منځه وړي چې د نومړو فرايضو او ديني واجباتو منځو کې پيښيږي په دې شرط چې د کبايرو نه ځان وساتئ.

## حديث(۸۱):

وعن معاوية بن أبي سفيان وهو يخطب يقول إني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول :«من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين وإنما أنا قاسم ويعطي الله »[صحيح مسلم].

ژباړه : چا ته چې پاک الله ﷻ د خير اراده وکړي نو په دين کې پوهه ور په برخه کړي ريښتيا ده چې زه يوازې ويشونکی يم او پاک الله ﷻ ورکوونکې دی.

## حديث(۸۲):

وعن سهل بن سعد قال : قال رسول الله ﷺ : " أنا وكافل اليتيم له ولغيره في الجنة هكذا " وأشار بالسبابة والوسطى وفرج بينهما شيئًا . [رواه البخاري]

ژباړه : زه او هغه څوک چې د يتيم کفالت يې په غاړه اخستی وي د دغو دوو ګوتو په څېر په جنت کښې سره نږدې اوسو او د سبابې او منځومۍ ګوتو ته يې اشاره وکړه او د دواړو ترمنځ يې څه فاصله ورکړ.

## حديث(۸۳):

عن جرير بن عبد الله قال : قال رسول الله ﷺ : " لا يرحم الله من لا يرحم الناس ".[متفق عليه]

ژباړه : څوک چې په خلکو باندې زړه سوی و نکړئ الله ﷻ به هم په هغه مهرباني ونکړئ.

## حديث(۸۴):

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ (أَحَدٌ-عَبْدٌ) حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ[صحيح البخارى].

ژباړه : ځوک له تاسو څخه کامل مؤمن نه شی کیدای تر څو چي څه شی د ځان لپاره خوښوي هغه د خپل ورور لپاره هم خوښ کړي.

## حديث(۸۵):

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : " إذا مات الإنسان انقطع عمله إلا من ثلاثة أشياء : صدقة جارية أوعلم ينتفع به أوولد صالح يدعو له «[صحيح مسلم]

ژباړه : کله چي انسان مړ شي عمل يې قطع کيږي خو د دريو شيانو ثواب تل ورته رسيږي او هغه دا دي:  جاري صدقه ,علم چي د خلکو د استفادې مورد ګرځيدلای وي او صالح اولاد چي دعا ورته کوي.

## حديث(۸۶):

عن عبد الله بن مسعود عن النبي ﷺ قال :« لا يدخل الجنة من كان في قلبه مثقال ذرة من كبر قال رجل إن الرجل يحب أن يكون ثوبه حسنا ونعله حسنة قال إن الله جميل يحب الجمال الكبر بطر الحق وغمط الناس»[صحيح مسلم].

ژباړه : عبدالله بن مسعود وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر چا په زړه کي چي کبر وي ، جنت ته نه داخليږي. يو سړي وويل: يو چا د ښه او ښايسته کالی مينه وال دي ، آيا دا هم کبر دی ؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ له ښکلا ده او ښکلا يې خوښيږي .کبر د حق انکارول او د خلک تحقيرول په معنی ده.

## حديث(۸۷):

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله ﷺ: « يُقْبَضُ الْعِلْمُ وَيَظْهَرُ الْجَهْلُ وَالْفِتَنُ وَيَكْثُرُ الْهَـرْجُ قِيـلَ يَـا رَسُـولَ اللهِ وَمَـا الْهَـرْجُ فَقَـالَ هَكَـذَا بِيَـدِهِ فَحَرَّفَهَـا كَأَنَّـه يُرِيـدُ الْقَتْلَ »[صحيح البخارى].

ژباړه : داسی ورځ به راشي چې علم به لمنځه ولاړ شي او فتنه جهل او نادانی به په ښکاره ډول شي او هرج او مرج به زيات شي.

چا پوښتنه وکړه ای د الله رسوله حرج او مرج يعنى څه رسول الله ﷺ خپل لاسونه په داسی ډول وښورول چې قتل او کشتار به زياد شي.

## حديث(۸۹):

رسول الله ﷺ فرمايلي دی:« کن فی الدنيا کانک غريب او عابر سبيل »[صحيح البخارى]

ژباړه : په دنيا کې د مسافر يا غريب په شان ژوند وکړه.

## حديث(۹۰):

عَنْ أَنَسٍ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا. قَـالُوا يَـا رَسُـولَ اللهِ هَـذَا نَنْصُـرُهُ مَظْلُومًـا فَكَيْـفَ نَنْصُـرُهُ ظَالِمًـا قَـالَ تَأْخُـذُ فَـوْقَ يَدَيْهِ[صحيح البخارى].

ژباړه : له خپل ورور سره مرسته وکړه که ظالم وي او که مظلوم. يو صحابي پوښتنه وکړه :

يا رسول الله! مظلوم خو د مرستي وړ دی خو ظالم سره څنګه مرسته وکړو ؟

مُحَمَّد ﷺ وفرمايل:ظالم د ظلم څخه راګرځوه همدغه ستا مرسته ده.

## حديث(۹۱):

رسول الله ﷺ فرمايلي دی:«إذا أتاکم من ترضون دينه وخلقه فأنکحوه إلا تفعلوا تکن فتنة فی الأرض وفساد کبير »[صحيح ترمذی]

ژباړه : که چیري د خواستګاري لپاره څوک ستاسو کور ته درغلل او د دین او اخلاقو څخه یې راضي یاست نو هغه سره خپلوي وکړئ که چیرې دا کار ونکړئ نو په ځمکه کې به غټه فتنه او فساد خپور شي.

## حدیث(۹۲):

رسول الله ﷺ فرمایلي دی:«صلاة الرجل في الجماعة تضعف على صلاته في بيته وفي سوقه خمسا وعشرين ضعفا»[متفق علیه].

ژباړه : په جماعت سره لمونځ کول تر هغه لمانځه چي په یوازي ادا شي(یا په کور او نور زای کی) ۲۵ درجې زیات فضیلت لري.

## حدیث(۹۳):

عَنِ ابْنِ عُمَرأَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ نَهَى عَنِ الْقَزَعِ ، قَالَ: قُلْتُ لِنَافِعٍ: وَمَا الْقَزَعُ ؟ قَالَ: يُحْلَقُ بَعْضُ رَأْسِ الصَّبِيِّ وَيُتْرَكُ بَعْضٌ[مسلم].

ژباړه : ابن عمر رضی الله عنه وایي چي رسول الله ﷺ د قزع څخه منع کړل.

نافع رضي الله عنه څخه پوښتنه وشوه چي قزع یعني څه ؟

هغه وویل : دا چي د سر وریښتانو یو برخه تراش شي او بله برخه یي پاتي شي.

## حدیث(۹۴):

عن أبي هريرة عن النبي ﷺ : « إن الله كتب على ابن آدم حظه من الزنا أدرك ذلك لا محالة فزنا العين النظر وزنا اللسان المنطق والنفس تمنى وتشتهي والفرج يصدق ذلك كله ويكذبه»[مشکاة].

ژباړه : الله ﷻ هر کس ته د زنا یو برخه تعیین کړی ده. د سترګو زنا نامحرمو ته کتل دي ، د ژبه زنا فحش وینا ده ، او د نفس زنا هیلي او غوښتني دی.

## حدیث(۹۵):

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضی الله عنه أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ:« مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَدْعُو لأَخِيْهِ بِظَهْرِ الغَيْبِ إِلاَّ قَالَ الْمَلَكُ وَلَكَ بِمِثْلٍ.»[رواه مسلم].

ژباړه : هیڅ داسې یو مسلمان نشته چي خپل مسلمان ورور ته دعا وکړي ، مگر دا چي فرشتی وایي چي تا ته هم همداسې ورکړل شي.

## حدیث(۹۶):

عن أبي هريرة رضي الله عنه : عن النبي ﷺ قال:« إن لله تسعة وتسعين اسما مائة غير واحد من أحصاها دخل الجنة»[سنن الترمذی].

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمایی: د الله ﷻ یو کم سل نومونه دی څوک چه دغه نومونه یاد کړی نو جنت ته به ځی.

## حدیث(۹۷):

وعنّ اَبوهُرَیّرَه أن رسول اللَّه ﷺ قال: «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ والْيوْمِ الآخِرِ ، فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ ، وَمَنْ كانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ والْيوم الآخِر ، فَلْيصلْ رَحِمَهُ ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّه وَالْيوْمِ الآخِرِ ، فلْيقُلْ خيراً أَوْ لِيَصمُتْ»[متفق عليه].

ژباړه : هر څوک چی په الله تعالی او د قیامت په ورځ ایمان لري د خپل میلمه اکرام (پالنه او کرامت ) دي وکړي (وساتي) هر څوک چي په الله تعالی او د قیامت په ورځ ایمان لري صله یي رحم دی پر ځای (دوامداره) وساتي هر څوک چي په الله تعالی ایمان لري یادي د خیر خبره وکړي یا دي سکوت وکړي

## حدیث(۹۸):

رسول الله ﷺ د رمضان نه مخکي داسې دعا کوله : « اللهم بارك لنا في رجب وشعبان وبلغنا رمضان » رواه أحمد والطبراني ) .

ژباړه : او کله چي د رمضان میاشت ولیدل شي داسې دعا کول په کار دي : « الله أكبر اللهم أهله علينا بالأمن والإيمان والسلامة والإسلام , والتوفيق لما تحب وترضى ربي وربك الله » [ رواه الترمذي , والدارمي , وصححه ابن حبان ].

## حديث(۹۹):

رسول الله ﷺ فرمايى:« مَنْ أَحَبَّ قَوْمًا حَشَرَهُ اللَّهُ فِي زُمْرَتِهِمْ »[ رواه الطبراني في المعجم الكبير].

ژباړه: څوک چي د يوه قوم سره مينه لري الله به يې د هغو په ډله کي راپورته کړي

## حديث(۱۰۰):

عن أبي بكرة قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : « لا يقضين حكم بين اثنين وهو غضبان »[متفق عليه].

ژباړه : هيڅ کوم قاضي نبايد  د غصه په حالت کې د دوو کسانو ترمنځ فيصله و کړي.

## د سحر اذكار

اية الكرسى (يو دفعه )
سورة الاخلاص( درى دفعى )
سورة الفلق (درى دفعى )
سورة الناس (درى دفعى )

أَصْبَحْنا وَأَصْبَحَ المُلْكُ لله.وَالحَمدُ لله ، لا إلهَ إلاّ اللّهُ وَحدَهُ لا شَريكَ لهُ ، لهُ المُلكُ ولهُ الحَمْد ، وهُوَ على كلّ شَيءٍ قدير ، رَبِّ أسْأَلُكَ خَيرَ ما في هذا اليوم وَخَيرَ ما بَعْدَه ، وَأَعوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هذا اليوم وَشَرِّ ما بَعْدَه ، رَبِّ أَعوذُبِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسوءِ الْكِبَر ، رَبِّ أَعوذُبِكَ مِنْ عَذابٍ في النّارِ وَعَذابٍ في القَبْر.

ژباړه : موږ اوټوله نړۍ سهارته ننوتلواوموږ دالله مخلوق يو ،
اوټول حمد اوثنا الله لره دى ،له الله پرته بل څوک دعبادت لائق ندى ،هغه يودى شريک نلرى ، پاچاهي دهغه به لاس کى ده ، اوثنا هغه لره ده ، اوهغه په هرڅه قدرت لرى ، اى الله ! ددى ورځى او راتلونکى خير در څخه غواړم ،او ددى ورځى او راتلونکى له شرنه مى وژغوره ، اى الله ! ته مى له سستى او دتکبرله بدى نه وژغوره ، زما څښتنه ! داور له عذابه او دقبر له عذابه مى وژغوره !

اللّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنا وَبِكَ أَمْسَينا ، وَبِكَ نَحْيا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُور.

ژباړه :
اى الله! ستا په نوم سهارته ننوتلو ، اوستاپه نوم مو ماښآم کړ ، اوستاپه نامه ژوندى يو ، اوستاپه نامه به مرو ،اوتاته به درځو ،

اللّهمَّ أَنْتَ رَبِّي لا إلهَ إلاّ أَنْتَ ، خَلَقْتَني وَأَنا عَبْدُك ، وَأَنا عَلى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ ما اسْتَطَعْت ، أَعوذُبِكَ مِنْ شَرِّ ما صَنَعْت ، أَبوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبوءُ بِذَنْبي فَاغْفِرْ لي فَإِنَّهُ لا يَغْفِرُ الذُّنوبَ إِلاّ أَنْتَ .

ژباړه : يا الله ! ته زما رب يى له تاپرته بل دعبادت لايق

نشته ، زه تا پيدا کړی يم اوزه ستابنده يم ، زه ستاپه وعده اوژمنه ولاړ يم ، هغه نعمتونه چی ماته دی راکړی دی
دهغو اعتراف کوم او دا اعتراف کوم چی ما ګناهونه کړی دی نوماته ښښنه وکړه ځکه له تا پرته بل څوک ښښنه نشی کولی او ما چی کوم بدکارونه کړی دی دهغو له شر نه می وژغوره .

- اللّهُـمَّ إِنِّـي أَصْبَـحْتُ أَشْـهِدُك ، وَأُشْـهِدُ حَمَلَـةَ عَرْشِـك ، وَمَلائِكَتِـك ، وَجَمـيعَ خَلْقِك ، أَنَّـكَ أَنْـتَ اللهُ لا إلـهَ إلاّ أَنْـتَ وَحْـدَكَ لا شَريكَ لَـك ، وَأَنَّ مُحَمّـداً عَبْـدُكَ وَرَسولُك .

ژباړه : ای الله ! ما سهارکړ زه تا ، دعرش فرښتی اوستاټولی فرښتی ، اوټول مخلوق ددی خبری شاهد ان ګرځوم چی يواځی ته ريښتونی اله يی او له تاپرته بل اله نشته ته يو يی او شريک نلری اومُحَمَّد ﷺ ستابنده او رسول دی .

اللهم ما أصبح بي من نعمة فمنك وحدك لا شريك لك فلك الحمد ولك الشكر.

ژباړه : ای الله! ماچی په څومره نعمتونوکی سهار کړ داټول يواځی ستالوری نه ده ته شريک نلری ثنا اوشکر تالره ده .

اللّهُمَّ عافِني في بَدَني ، اللّهُمَّ عافِني في سَمْعي ، اللّهُمَّ عافِني في بَصَري ، لا إلهَ إلاّ أَنْتَ . (ثلاثاً)

اللّهُـمَّ إِنّـي أَعـوذُبِكَ مِنَ الْكُفر ، وَالفَـقْر ، وَأَعـوذُبِكَ مِـنْ عَذابِ القَـبْر ، لا إلـهَ إلاّ أَنْـتَ. (ثلاثاً)

ژباړه : يا الله ! ماته روغ بدن راکړه ، يا الله زما داوريدوځواک روغ کړه ،
يا الله زما دليدځواک روغ کړه ، له تا پرته بل هيڅ معبود نشته ،يا الله ! ما له کفر او غريبی نه وژغوره ،يا الله دقبر له عذاب نه نجات راکړه ،
له تا پرته بل هيڅ معبود نشته .(دری ځله ويل کيږی)

حَسْبِيَ اللّهُ لا إلهَ إلاّ هُوَ عَلَيهِ تَوَكَّلتُ وَهُوَ رَبُّ العَرْشِ العَظيم . ( سبع مرات )

ژباړه :زما له پاره الله کافی دی ، له هغه پرته بل هيڅ معبود نشته ، په هغه می توکل دی او هغه دستر عرش څښتن دی . (اووه ځله ويل کيږی)

أَعوذُبِكَلِماتِ اللهِ التّامّاتِ مِنْ شَرِّ ما خَلَق (ثلاثاً)

ژباړه : له ټولو مخلوقاتو نه دالله په پوره کلماتو او صفاتو سره پنا غواړم (درې ځله ویل کیږی )

للّهُمَّ إِنِّي أسْأَلُكَ العَفْوَ وَالعافِيةَ في الدُّنْيا وَالآخِرَة ، اللّهُمَّ إِنِّي أسْأَلُكَ العَفْوَ وَالعافِيةَ في ديني وَدُنْيايَ وَأهْلي وَمالي ، اللّهُمَّ اسْتُرْ عوْراتي وَآمِنْ رَوْعاتي ، اللّهُمَّ احْفَظْني مِن بَينِ يَدَيَّ وَمِن خَلْفي وَعَن يَميني وَعَن شِمالي ، وَمِن فَوْقي ، وَأَعوذُ بِعَظَمَتِكَ أَن أُغْتالَ مِن تَحْتي.

ژباړه : ای الله زه له تانه په دنیا او اخرت کی د روغتیا اوبریالیتوب سوال کوم ، ای الله په دین ، دنیا ، کوروالو او شتمنی کی می روغتیا اوبریالیتوب په برخه کړی ، ای الله زما عیبونه پټ کړی ، زما ویره په امن بدله کړی ، له مخ ، شا ، له ښی لوری ، له چپ لوری او له پاسه می وساتی ، او یا الله ته می دلاندی لوری ساتنه وکړی

اللهم فاطر السموات والأرض عالم الغيب والشهادة رب كل شيء ومليكه أشهد أن لا إله إلا أنت أعوذ بك من شر نفسي وشر الشيطان وشركه.

ژباړه : یا الله ته دځمکی او اسمانونو پیدا کوونکی یی ، ته په پټو او ښکاره خبر یی ، ته دهرشی څښتن او واکدار یی زه شاهدی وایم چی له تا پرته بل هیڅ معبود نشته ، ته ما دخپل نفس له شر نه وژغوری اود شیطان له شر او شرک نه می وژغوری

بِسمِ اللهِ الذي لا يَضُرُّ مَعَ اسمِهِ شَيءٌ في الأرْضِ وَلا في السّماءِ وَهوَ السّميعُ العَليم .(ثلاثاً).

ژباړه : دهغه الله په نوم شروع کوم چی دنامه په برکت سره یی په ځمکه او اسمانونوکی څه شی ضرر نه شی رسولی او هغه اوریدونکی او علیم دی (درې ځله ویل کیږی )

رَضيتُ بِاللهِ رَبَّاً وَبِالإسْلامِ ديناً وَبِمُحَمَّدٍ ﷺ نَبِيّاً . (ثلاثاً)

ژباړه : الله ﷻ می خپل رب منلی دی ، اسلام می خپل دین منلی دی ، او رسول الله صل الله علیه وسلم می پیغمبر منلی دی .(دری ځله)

سُبْحانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِه ،وَرِضا نَفْسِه ، وَزِنَةَ عَرْشِه ، وَمِدادَ كَلِماتِه .(ثلاثاً)

ژباړه : ټوله پاکی الله لره ده او ټوله ثنا الله لره ده دده دمخلوقاتو په شمیر ، دعرش دوزن په شمیر ،

او دده دکلماتو د رنګ په شمیر. (دری ځله )

سبحان الله وبحمده (مائة مرة)

ژباړه : ټوله پاکی الله لره ده او ټول حمد ده لره ده . (سل ځله )

أَصْبَحْنا وَأَصْبَحْ المُلكُ للهِ رَبِّ العالَمين ، اللّهُمَّ إِنِّي أسْأَلُكَ خَيْرَ هذا اليَوْم ، فَتْحَهُ ، وَنَصْرَهُ ، وَنورَهُ وَبَرَكَتَهُ ، وَهُداهُ ، وَأَعوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ ما فيهِ وَشَرِّ ما بَعْدَه

ژباړه : موږ اوټول مخلوق دټولو عالمیانو درب له پاره سهار کړ .ای الله ددی ورځی ښه

او خیر له تانه غواړم ، او ددی ورځی سوبه ، مرسته ، رڼا ، برکت او هدایت درنه غواړم

او ددی ورځی او له دی ورځی نه وروسته حالت له شر نه می وژغوره .

يا حي يا قيوم برحمتك أستغيث ، أصلح لي شأني كله ، ولا تكلني إلى نفسي طرفة عين.

ژباړه : ای تل ژوندی او پالونکی ستادرحمت په برکت زما ټول کارونه رابرابرکړی

او یوه ګړۍ می هم خپل نفس ته مه پریږدی .

لا إله إلا الله وحده لا شريك له ، له الملك وله الحمد ، وهو على كل شيء قدير. (مائة مرة)

ژباړه : له الله پرته بل هیڅ معبود نشته هغه یودی شریک نلری ، او په هرڅه قدرت لری

(سل ځله )

اخوکم فی الله أبوشاکرمسلم| ۱۳۹۹/۱/۲۵

## خواهش ما از شما عزیزان:

برای شما معلوم است که مطبعه ها وچاپ خانه های کشور متأسفانه کتب ورساله های همچون:«داستان های سکسی» ، «داستان های ملانصرالدین» ، «یک دسته گل» ، «فالنامه وتعویذات» ، «داستان های عاشقانه» ، «دعاهای بدعی امثال گنج العرش» «وغیره» را رایگان به چاپ می رسانند.
وقتیکه ما تقاضای چاپ این کتاب را می کنیم ، بهانه های مختلفی می آورند ، وبالاخره چاپ نمی کنند.
پس جوانان مخلص ودین دوست! بخواهیم یا نخواهیم روزی از این دنیاء فانی خواهیم رفت ، ودر قبر وآخرت یکی از راه های نجات از عذاب پروردگار ، صدقه های جاریه است چون رسول الله صلی الله علیه وسلم میفرماید:« چون انسان بمیرد، عمل او قطع می شود، جز در سه چیز: ۱- صدقه ای که جاری باشد ، ۲- عملی که از آن سود برند ، ۳- فرزند صالحی که برای او دعا کند»(صحیح مسلم).
سلف صالح می گفتند که دنانیر ودراهم از بین میرود ولیکن اشاعه ونشر کتاب تا قیام قیامت باقی خواهد ماند...پس این کتاب را وسائر کتب ورساله های مفید دیگری را چاپ کنید ، ودر دسترس جوانان قرار دهید.
دیگران بالای گسترش باطل خویش ملیون ها پول خرچ میکنند ، اما من وتو حاضر نیستیم که رساله وکتاب چندصفحه ای را بخاطر رضای الله به چاپ برسانیم؟!.